## د کتابتون مدیریت پیژندنه

د کتابتون نوم: دوکتور حضرت میر توتاخیل

د کتابتون د تأسیس کال: ۱۳۹۲ هـ ش

نوموړی کتابتون د اناستو پوهنتون سره همهاله تأسیس سوی دی، چي د ۱۳۹۲هـ ش کال څخه بیا تر ۱۳۹۸هـ ش کال پوري يې ۴۰۰۰ جلده کتابونه چي ټوله يې د ماسټری برنامو مربوط کتابونه وه شتون درلود. د لوړو زده کړو وزارت د هدایت په اساس کله چې د کندهار پوهنتون څخه د زراعت پوهنځي اناستو پوهنتون ته رانتقال سوه د کندهار پوهنتون عمومي کتابتون څخه ټول هغه کتابونه چي د زراعت سره يې تړاو درلود د اناستو پوهنتون عمومي کتابتون ته را انتقال سوه چي په دې سره يې د کتابونو شمیر ۹۰۰۰ جلده ته لوړ سو.

### د کتابتون لرلید، رسالت او موخې

### لرلید

په ملي او نړیواله کچه استادانو او محصلینو ته د علمي څېړنیزو اثارو، کتابونو او مجلو د اسانتیاو لپاره چوپړ رامنځته کول.

### رسالت

د کتابتون مدیریت ژمن دی چې د پوهنتون د استادانو او محصلینو ته په کتابتون کي د مطالعي او علمي هڅو فرهنګ ته وده ورکړي، په کتابتون کي محصلینو ته اسانتیاوو برابرولو او مطالعي د پایلو د عملي کولو له لارې د ټولنې د پرمختګ لپاره دوامداره خپل کوښښ پلي کول.

### موخې

- د محصلینو لپاره ګروپي اطاقونه برابرول
- د محصلینو لپاره د ازادي مطالعې اطاقونه جوړول
- د الیکترونکی کتابتون برابرول
- د محصلینو لپاره په نوي بڼه چاپ سوي کتابونه برابرول

## د کتابتون له کتابونو څخه د ګټې اخستیني طرزالعمل

- د کارټ جوړول
- تر ټاکلو ورځو پوري کتاب له ځان سره ساتل
- که چیري دوه ځلي محصلینو پر خپل ټاکلي وخت کتابتون کتاب نه کړي تسلیم په هماغه سمسټر کي د کتابتون د کتابونوڅخه محروم کیږي
- د کتابتون د غړیتوب له کارټ څخه پرته کتابتون ته داخلیدل منعه دي

## د کتابتون تشکیلاتي چارټ




